کاظم بیمار ننګرهاری
د کابل پوهنتون استاد

۲۰۱۱/۰۸/۲۵

# شیعه يي که سني؟

تيره شنبه، د روژې د مياشتي په شلمه، د بزګرانو د ترکاريو او سبزيجاتو خرڅولو مارکيټ ته، چي د کاليفورنيا د هيوارد په ښار کي موقعيت لري ولاړم. د ترکاريو د اخيستلو وروسته، مي وليدل چي يو مسلمان ځوان اسلامي نشرات او کتابونه يي راوړي وو، او خلکو ته يي مفت او رايګان ورکول.
زه هم د اسلامي کتابونو خواته ورتاو شوم او د کتابونو په ليدلو مي پيل وکړ. پدي وخت کي د يوه شخص سره مخامخ شوم. هغه زما څخه وپوښتل چي " ته شيعه يي که سني؟" ما ورته وکتل او هيڅ ځواب مي ورنه کړ. ده بيا راته وويل چي "ته شيعه يي که سني؟" کله چي ما وليدل چي دا سړی دير شله دی او ځواب غواړي، نو ما ورته په جدي لهجه وويل چه زه نه شيعه يم او نه سني يم.
ده بيا راته وويل چي ته څوک يې؟ ما ورته وويل چي زه انسان يم.
ده د يوه زهر خند نه وروسته بيا راته وويل چي زما ځواب دی رانه کړ، يو وار خو راته ووايه ته په کوم مذهب يې؟ شيعه يي که شني؟ دا ځل ماورته په زغرده وويل، چي زه نه شيعه يم او سني يم، زه يو انسان يم او مسلمان يم. ده غوښتل چي نوري پوښتني وکړي، ما ورته نور وخت ورنه کړ او ورته مي وويل چي غوږ ونيسه چي درته ستا د ټولو پوښتنو ځواب ووايم. ما ورته وويل چي دغه ډول پوښتني چه ته يي کوي دا د تفرقه اندازانو کا راو روزګار دي، دا د هغه خلکو کا ردی چي د اسلام او مسلمانانو سره د زړه د کومي دښمني او عداوت لري، د مسلمانانو تر منځ د شيعه او سني د تفرقي تخم شندل د خداي او رسول سره دښمني ده. داسلام دين د پيداينت څخه تر نن ورځ پوري د هر تبعيض، تفرقي، او تعصب څخه مبرا دين او آيين دی، په دي دين کي شيعه ايزم او سني ايزم ځا ي نه لري. رسول اکرم د کلام الله په تعبير او تفسير کي مسلمانانو ته خطاب کړيدي نه يي شيعه ته خطاب کړي او نه يي سني ته خطاب کړيدي. رسول کريم نه شيعه و او نه سني، د هغه مبارک څلور ياران ، لمسي او صحاب کرام نه شيعه و او نه سني. دا کلمات وروسته مغرضون واو ددين مخالفينو منځ ته راوړي دي او هر هغه څوک چي دغه اختلافاتو ته اوس لمن وهي ددين سره خيانت کوي. او غواړي چي مسلمانان په څو ډلو وويشي.
کله چه ما دغه شخص ته دا لنډ مستند دلايل وويل، نو هغه را وويل چي " زه لتا سره سل په سلو کي موافق يم، مګر ته د ځينو تلويزونونو او ځيني بريښنايي سايټونو ته ګوري چه څه وايي؟"
ماورته په ځواب کي بيا وويل چي هر څوک چه د افغانانو او مسلمانانو تر منځ هر ډول تفرقه اچوي د خداي، رسول او زمونږ دښمنان دي. زه هيڅکله، هيڅ ډول اختلاف او تفرقه نشم منلاي او هغه د خپل هيواد لپاره خطر ناکه بولم، هر ملا او هر واعظ چي دا ډول زهرجن تبليغات کوي هغه د خداي، رسول او د خلکو دشمنان دي.
دا کار پخوا انګريزانو او انګريزي مشربه ملايانو کاوه او اوس يي د هغوي سر سپردګان د پاکستان او ايران په مرسته کوي. مګر زمونږ هوښيار خلک اوس د ښو او بدو فرق ډير ژر کولاي شي او د هيڅ مغرض د شيطانی نه تيروځي، دوي اوس هر څوک ډير ښه پيژني او بس.

پای



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ